# عزيز ماما

منظور کاکړ

ستا د ښائست ګلونه ډېر دي
جولۍ مې تنګه زۀ به کوم کوم ټولومه

هو عزيز ماما هم له مونږ څخه جدا شو. عزيز ماما په يوۀ وخت کښې د ډېرو زياتو صلاحيتونو مالک ؤ. يو خوا کۀ هغه يو کلک او پرعزم سياسي رهنما او د باچا خان د لښکر پياوړے ملګرے ؤ خو بلې خوا ته د پښتو ژبې او پښتو ادب يو ځلاند ستورے ؤ. د ادبي خدماتو نه علاوه هغه يو ډېر ښۀ قانون دان هم ؤ نو دا ټولې خوبۍ چې سره يو ځائے کړې نو يقيناً دا د هر سړي د وس خبره نۀ وي او الله تعالٰي په ډېرو کمو خلقو کښې دا صفات اېښي وي.

عزيز ماما چې د پښتونخوا د جګو غرو په مېنځ "لويه کاکړي" کښې سترګې رڼې کړې وې، چرې چې ذرائع آمد و رفت بېخي کم، يو شوخ قبائلي ژوند، د سياست او سياسي جدوجهد څخه د بې خبره خلقو ټولنه وه او د دوي خپله کورنۍ ډېره زياته په قبائلي روايا‌تو ټينګه ولاړه وه خو عزيز ماما يو داسې ځلاند ستورے ؤ چې هغۀ دا ټولې اړتياوې، پابندۍ، ماتې کړې او د علم او هنر په تلاش کښې راووت. دا ډېره عجيبه خبره وه چې د "لويه کاکړي" يو زلمے راپورته کېږي هغه د کلي د مکتب نه د فراغت نه پس د کوئټې د کالج او يونيورسټۍ څخه د شپاړلسم جماعت پورې سبق وائي او بيا د انګليسي ژبې استاذ (ليکچرر) لګېږي او د هغۀ سره سره د وکالت ډګري هم ترلاسه کوي او پښتنو طالبعلمانو ته د نصابي تعليماتو سره سره د پښتنو د سياسي تحريک ښودنه هم ورکوي او باقاعده "سټډي سرکل" سياسي پوهنه د پښتنو لوستونکو ته ورښووله.

عزيز ماما په يوه وخت کښې د ډېرو زياتو صلاحيتونو مالک ؤ. يو خوا کۀ هغه يو کلک او پرعزم سياسي رهنما او د باچا خان د لښکر پياوړے ملګرے ؤ خو بلې خوا ته د پښتو ژبې او پښتو ادب يو ځلاند ستورے ؤ. د ادبي خدماتو نه علاوه هغه يو ډېر ښۀ قانون دان هم ؤ نو دا ټولې خوبۍ چې سره يو ځائے کړې نو يقيناً دا د هر سړي د وس خبره نۀ وي او الله تعالٰي په ډېرو کمو خلقو کښې دا صفات اېښي وي.

عزيز ماما په شروع کښې د پښتون قومي تحريک او د باچا خان د فلسفې او عمل څخه متاثر ؤ. عزيز ماما د پښتون سټوډنټس فېډرېشن غړے او بيا وروستو مرکزي صدر پاتې شو. په دې دوران کښې ماما خپلو ملګرو ته د

سیاسي پوهنې سره سره د نصاب زدکړه هم ورکوله هم دا وجه وه چې نن د ماما سیاسي شاګردان په صوبه کښې په ډېرو ښو ښو نوکریو ناست دي او د خپل قوم او خاورې په عملي ژوند کښې خدمت کوي چې یقیناً د فخر افغان باچا خان د ارمانونو تکمیل هم دغه دے.

عزیز ماما په داسې حال کښې سترګې پټې کړې چې پښتون قومي تحریک په یو فېصله کن موړ ولاړ دے. پښتونخوا وطن د یوه نۀ لیدونکي دښمن سره مخامخ دے او دا به ووایو چې د "سایې سره جنګ" روان دے. زمونږ دښمن نوم او نښان نۀ لري خو زمونږ د تباهۍ بربادۍ یوه لاحاصله کوشش ضرور کوي. دا جنګ نن زمونږ څخه ملي یووالے غواړي، زمونږ هغه پروني دښمن نن جامه او نوم ضرور بدل کړے دے خو مقصد هم هغسې دے چې "پښتون او هغه وطن د بارودو انبار کړي" دا ولې؟ دا زمونږ سره د هغۀ دښمني په څۀ؟ نن د کراچۍ نه تر خیبره، د پېښورنه تر کوئټې پورې زمونږ اولس په یو عذاب کښې بوخت دے، آیا دا زمونږ خپل قصور دے؟ آیا مونږ په وجود کښې واقعي ظالمان، دهشت ګردان یو؟ آیا مونږ د انسانیت واقعي دښمنان یو؟ نۀ داسې هر ګز نۀ ده، هر ګز نۀ ده، بلکې مونږ خو هغه قوم یو چې د سادګۍ، دوستۍ، مېلمه دوستۍ، غیرت، عزت، ننګ، پت، قربانۍ یو مثال لرو. مونږ خو د عدم تشدد د فلسفې داعیان یو، مونږ خو د امن او ورورولۍ قائل یو. دانن څۀ روان دي؟ د خدائے دپاره عالمه دا مونږ نۀ یو، دا سرونه پرېکول، دا ژوندي خلق په ګولۍ وژل، دا سکولونه، جماعتونه نړول، دا پلونه، ښارونه ورانولو دا قطعاً پښتانۀ نۀ دي بلکې دا هغه ډوک دي چې لا تر اوسه چې ۳۵ لکه پښتانۀ ئې ووژل او په لکونه زخمیان شول دا هغه دښمن دے خو نن ئې صرف نوم بدل کړے دے.

تاریخ ګواه دے چې کله یو قوم خپل منزل ته رسي په هغۀ هم داسې حالات راځي، نن مونږ ته پکار ده چې په خپل منځ کښې د اتفاق او اتحاد رسۍ مضبوطه کړو او د خپل مقصد او مرام سره په اخلاص ځان وتړو نو هیڅ وجه به نۀ وي چې دا توره شپه به خدائے رڼا نۀ کړي. هغه د شاعر خبره چې:

ملګرو پام کړئ وارخطا چې نۀ شئ
د خپل منزل څخه په شا چې نۀ شئ
تیارې ختمېږي اوس رڼا راخېژي
په جګو غرو د پښتونخوا راخېژي

پښتون قومي تحریک کښې د عزیز ماما په شان ډېرو مبارزینو خپل پښتون غیرت ترسره رسولے دے، د هم دغه مبارزینو په برکت به سبا نور په مخکښې ځي. مونږ ته پکار ده چې د خپلو ملي اتلانو، مبارزینو دغه جدوجهد خپل مقصد او مرام وګڼو او کۀ کله زمونږ قول او عمل سمون سره وخوري نو هیڅ وجه به نۀ وي چې پښتون قومي تحریک به خپل منزل ته نۀ رسي او مونږ د عزیز ماما په مرګ دا سوګند کوو چې انشاءالله د باچا خان ارمانونه، د ولي خان افکار به د ځوان قائد اسفندیار ولي خان په مشرۍ کښې سر ته رسوو ځکه چې داسې مشران خو بل یو قوم هم نۀ لري.